بسم الله الرحمن الرحیم

**خبر او تبصره**

# د عمران خان پروژه ناکامیږي

**خبر:**

د جولای په ۱۳مه سلگونه زرو کارباریانو په پاکستان کې پر خرڅلاو باندې د لوړې مالیې د لگولو پر وړاندې احتجاج وکړ، د مالیې لوړېدل د پیسو له نړیوال صندق سره د دولت د وروستي توافق یوه برخه ده. کومه خوښي چې پاکستان یې د ۲۰۱۸م کال په جولای کې نیولې و، اوس یو تېر یاد ښکاري. د یوه نوي پاکستان د جوړولو لویې ژمنې، د فساد ختمول او پر بهرنیو موسسو باندې د تکیې کمول تر اوسه پورې چې یو کال تېر دی، هماغسې ژمنې پاتې دي. عمران خان اوس هم په خبرو کې ښه دی خو نه پوهېږي چې خپلې کړې او راتلونکې خبرې او ژمنې څنگه عملي کړي. څه چې خان نه وو درک کړي هغه دا وو چې په ټاکنو کې د ده بریا له دې سره اړه نه لرله؛ هر چا چې گټلې، هغوی له گټو، څو اړخیزو او ژورو چلنجونو او ستونزو سره مخ شوي.

**تبصره:**

عمران خان واک ته له رسېدلو وروسته د خپلې کابینې په اعلان ډېر خلک حیران کړل، ځکه چې خوځ اکثریت غړي یې له تېرو نظامونو څخه راپاتې وو. له ځینو استثناوو لکه اسد عمر پرته، نور د ده ډېری وزیران او سلاکارن ان د پرویز مشرف تر مشرۍ لاندې او تر هغه راوروسته حکومتونو کې کار کړی. په حکومت کې د دغو کسانو گډون د شوو ژمنو د ماتېدو لومړنۍ نښه وه، اسد عمر هم بلاخره له نظام څخه د کمزورو خلکو د کمولو په موخه وویستل شو.

عمران خان چې واک ته ورسېد، د پاکستان اقتصاد په پورونو کې ډوب او د بودیجوي او سوداگریز کسر له زیاتېدو سره مخ و. د پخواني نظام له لوري پر ای ایم ایف باندې د کلونو تکیې د کمولو له ژمنو سره سره، خان بیا هم ای ایم ایف ته مخ ورواړاوه. عمران خان لکه تر ده پخواني حکام، د پیسو له نړیوال صندوق سره معاملو ته دوام ورکوي. له څو میاشتو خبرو اترو ورسته، آي ام اف یا د پیسو نړیوال صندوق عمران خان ته ٦ بیلیونه ډالر پور تایید کړ او ددې لپاره یې سخت شرطونه پرې کېښودل؛ مثلا دا تعهد چې د پاکستاني روپۍ ارزښت به مارکېټ ټاکي او مرکزي بانک به یې ملاتړ او ساتنه نه کوي. د پاکستاني روپیو ارزښت له ۴۰ ٪ ډېر لوېدلی. په واشنگټن کې

محصیلینو ته د ووډراو ویلسن مرکز د جنوبي آسیا چارپوه دوچوېلې DW ته وویل: «د پیسو له نړیوال صندق سره په دغو شرایطو معامله به پاکستان دولت ته چې د یوه نوي سوکاله دولت د جوړولو ژمنه یې کړې، یوه سیاسي ضربې وي» ده زیاته کړه: « د پیسو نړیوال صندق یا آی اېم اف د پور دغه بسته به عمران خان ته ډېره ستونزمنه کړي چې خپلې اقتصادي ژمنې پوره کړي او په دې توګه به په هغه څه کې پاتې راشي چې ده غوښتل ځان هغو کسانو ته چې ده ته یې رایه ورکړې، وښيي».

تورم به د پاکستان ۲۰۰ میلیونه وګړي زیانمن کړي. مالي مشاویر عبدالحفیظ شیخ وویل چې سږ کال حکومت له خپل عاید نه بهر ۲،۳ تریلیون روپۍ د نوو پیسو پر چاپ ولګولې او دغه کار اقتصادي تورم رامنځته کړ، ده وویل: « که تاسو له خپل عاید نه بهر په تریلیونونو روپۍ مصرفوئ، مجبوربږئ چې پور واخلئ، نوې پیسې چاپ کړئ او بیې لوړې کړئ. دا ټول د تورم د زیاتېدو سبب کېږي. »

عمران خان څو لسیزې له سیاسته لرې ژوند کړی او په دې ونه توانېد چې پاکستان ګوندونه او حرکتونه د ځان خواته راجلب کړي. له پوپلېستي سیاست او لوېدلي اقتصاد سره نوموړي داسې هېوادونو ته مراجعه وکړه چې ده یې د ملاتړ دوام ته هیله درلوده. عمران خان دوی ته په خلاصه غېږه ښه راغلاست ووایه او بیا یې له پوځ سره اوږه په اوږه د نواز شریف دولت کمزوری کړ، په دې توګه دی د بدلون راوستونکي کاندید په توګه مطرح شو او د ۲۰۱۸م کال د جولای ټاکنې یې وګټلې. خو نن د ده حکومت له تېرو نظامونو سره هیڅ توپیر نه لري، دی اوس هم یوازې ژمنې او د بدلون په اړه تشې خبرې کوي او د تغېراتو په اړه خبرې کوي، د ده دا ټولې کړنې یوازې د موجوده وضعیت د ساتلو لپاره دي.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**عدنان خان**